ولي الله ملکزی

۲۰۲۴/۰۲/۰۶

# تاریخچه مختصر جنتری

**بسیاری از محققان باستان شناسی (Archaeology) بر این باورند که بشر نزدیک به ۳۵ هزار سال است که با کاربرد جنتری آشنایی دارند. در ابتداء فقط تقویم قمری بود، طلوع و غروب ماه را می شمردند تا قبل از آمدن شب های تاریک، غذاهای مورد نیاز خویش را جمع کنند. در آن زمان ذهنیت عمومی این بود که زمین یک صفحه ای هموار و ثابت است و خورشید از شرق به غرب حرکت می کند و روز به شب تبدیل می شود.**

**البته برای اولین بار، تمدن سومری (۴۵۰۰ قبل از میلاد) که تمدن پیشرو بین رودهای دجله و فرات در عراق بود، در پهلوی حساب قمری شروع به استفاده از منظومه شمسی نمود. برخی از مؤرخان عقیده دارند که منجمان (Astronomers) عصر برونزی (۳۲۰۰ پیش از میلاد) پس از درک منظومه شمسی، چهار فصل را به دربار آشوری ها و کلدانی ها معرفی کردند و به این ترتیب استفاده از هردو تقویم قمری و شمسی رائج شد. مصریان باستان نیز همین عقیده را داشتند، اما به جای ۱۲ ماه، ۱۳ ماه را برای سال انتخاب کردند و ماه آخر فقط پنج روز بود.**

**ولی حقیقت مبرم همین خواهد بود که امپراتور روم، جولیوس سیزار (Julius Caesar) عملاً تقویم جولیانی را در قلمرو وسیع خود اعلام کرد که ۳۶۵ روز داشت و هر چهار سال یکبار یک روز اضافه می شد که سال کبیسه نامیده میشود. سرانجام در سال ۱۵۸۲م پاپ بزرگ کاتولیک ها، گریگوری سیزدهم (Gregory XIII) این سیستم را تغییر داد و روز تولد حضرت مسیح (ع) را اولین روز سال جدید اعلام کرد. امروز ۱۶۸ کشور از مجموع ۱۹۵ کشور جهان در معاملات رسمی، ملی، مالی و بانکی خود ازین تقویم یکسان استفاده می کنند که گریگورین نام دارد. عربستان سعودي که بلاد حرمین شریفین است، در سال ۲۰۱۶م به شکل رسمي این سالنامه را زیر اجراء قرار داد.**

**مسلمانان در ابتداء از همان سال ها و ماه های عصر جاهلیت استفاده می کردند؛ مثلاً سال ولادت حضرت محمد (ص) را عام الفیل می نامیدند. چون هجرت پیامبر اکرم (ص) از مکه به مدینه در سال سیزدهم بعثت (۶۲۲ میلادی) نقطه عطفی در تاریخ اسلام به شمار می رود. از همین رو، در سال هفدهم هجری خلیفه دوم عمر بن خطاب (رضی الله عنه) طی فرمانی به همه حاکمان خلافت خود، این سال را تقویم هجری قمری نامگذاری کرد و دستور داد که ماه اول آن محرم و ماه آخر آن ماه ذی الحجه باشد. پروفیسور عبدالحی حبیبی در کتابش « تاریخ افغانستان پس از اسلام » می گوید که در زمان ورود اسلام به افغانستان (شروع عهد اموی) معاملات بین مردم اینجا بر اساس ماه های هندی و سانسکریتی بود که به زودی سیستم قمری هجری جای آن را گرفت.**

**در سال ۴۷۱ هجری قمری که موافق به ۱۰۷۹میلادي می باشد، علمای فلک از جمله شاعر و فیلسوف معروف، عمر خیام به جلال الدوله ملکشاه سلجوقی، پسر و جانشین آلپ ارسلان توصیه کردند که سال هجری شمسی را برپا کند. بلا فاصله، موصوف موافقت کرد و روز اول بارداری را نوروز برگزید. ولی باید تذکر داد که این سالنامه جدید جلالی**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

نام داشت و در یک جغرافیای کوچکی محدود ماند. سپس آخرین فرمانروای قاجار ایران، احمد شاه قاجار، در سال ۱۲۶۴ هجری قمری از منجم معروف دربارش، میرزا عبدالغفار اصفهانی خواست تا اصلاحات لازم را انجام دهد و نام هایی را برای چهار موسم و ۱۲ ماه انتخاب کند. پانزده سال بعد، به دستور شاه ایران رضا پهلوی، ۶ ماه اول سال شمسی را (از حمل تا سنبله) ۳۱ روز و از میزان تا دلو را ۳۰ روز و ماه حوت را ۲۹ روز، تعیین نموده و بطور سالنامه رسمی سلطنت شان اعلام کرد که تا امروز ادامه دارد.

از جهت دیگر، در زمان حکومات غزنویان، غوریان، سلجوقیان، صفاریان، گورگانی ها، هوتکی ها و درانی ها در افغانستان، تمامی قرارداد های تجارتی (داخلی و خارجی) و معاملات مالی مطابق تقویم هجری قمری و گاه گاهي با جنتری میلادي انجام می شد. اما برای اولین بار، شاه امان الله خان غازی در سال ۱۳۰۱ هجری قمری (۱۹۲۲م) به عنوان بخشی از اصلاحات خود سالنامه رسمی حکومت سلطنتی افغانستان را از قمری به شمسی تغییر داد و بر اساس این نظام تا زمان حکومت اول طالبان ادامه یافت. در زمان جمهوری اخیر، دوباره جنتری شمسی قابل اجراء قرار گرفت. ولی در دوران نظام فعلي طالبان، تمام تعاملات رسمی، مالی و بانکی به را به تقویم هجری قمری تبدیل نمود، ولی از تقویم شمسی هجری هم استفاده بعمل می آید.

باید گفت که یک سال قمری ۳۵۴ روز، ۸ ساعت، ۴۸ دقیقه و ۳۴ ثانیه می باشد، و یک سال شمسی ۳۶۵ روز، ۵ ساعت، ۵۹ دقیقه و ۱۶ ثانیه دارد. در حال حاضر، ۴۱ سالنامه دیگري در جهان وجود دارد که به طور رسمی و نیمه رسمی توسط کشورها، سازمان ها و اقوام و مناطق مختلف از آن استفاده می نمایند. معروف ترین آنها تقویم عبری، بودایی، چینایی، مایا آمریکای لاتین و آمازيغي شمال آفریقا است بالخصوص در الجزائر. در مورد تقویم و حساب، آیه پنجم سورت یونس قرانکریم چنین مي فرماید: (هُوَالَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ – اوست که خورشید را فروزان و ماه را تابان قرار داد، و برای ماه منازلی مقدّر ساخت تا شمار سال و حساب « ماه، هفته، اوقات امور زندگی و تنظیم برنامه های معیشت» را بدانید).

# د جنتري لنډه تاریخچه

د لرغونپوهنې (Archaeology) ګڼ شمیر څیړونکي انګیري چې بشري پرګنې له نژدې ۳۵ زرو کالو راهیسې د جنتري له يو ډول کارولو سره اشنا دي. په پیل کې یواځې قمري کلیزه وه، دوئ به د سپوږمۍ راختل او پرېوتل حسابول ترڅو مخکې له دې چې د تروږمۍ شپې را ورسيږي، باید خپله آذوقه ولري. دغه مهال ټولیز ذهنیت همدا وو چې مځکه یوه هواره او ثابته تخته ده او د لمر سترګه له ختیزه د لویدیز په لور خوځښت مومي او ورځ په شپې بدليږي.

البته د لومړي ځل لپاره، سومري تمدن (۴۵۰۰ قبل الميلاد) چې د عراق د دجلې او فرات د سیندونو ترمنځ یومخکښ مدنيت وو، د لمريزې جنترئ استعمالول هم پیل کړل. ځینې مؤرخین فکر کوي چې د برونزي عصر (۳۲۰۰ قبل الميلاد) د فلکياتو ماهرینو (Astronomers) د شمسي نظام له درک کولو وروسته څلور فصلونه د آشوریانو او کلدانیانو دربارونو ته معرفي کړل او په دې ډول د قمري او هم د شمسي کلیزو کارول عام شول. لرغونو مصریانو هم ورته نظریه درلودله، خو د کال لپاره يې د ۱۲په ځای، ۱۳میاشتې ټاکلي وې او وروستې میاشت به یواځې پنځه ورځې وه.

کوټلی حقیقت ښايي همدا وي چې رومن امپراطور، جولیس سیزار (Julius Caesar) په عملي ډول د خپل پراخه قلمرو دننه د جولیان په نوم لمریزه جنتري اعلان کړه. ۳۶۵ ورځې یې درلودلې او هر څلور کاله وروسته به یوکبیسه کال وو چې Leap بلل کیږي. بالاخره په ۱۵۸۲م کال کې د کاتولیکانو ستر پاپ، ګریګوري ۱۳(Gregory XIII) په دغه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**نظام کې بدلون راوست او د حضرت مسیح د پیدایښت ورځ یې د نوي میلادي کال لومړۍ ورځ اعلان کړه. نن د نړۍ د ۱۹۵هیوادونو له ډلې څخه ۱۶۸ ملکونه همدغه میلادي کلیزه پخپلو رسمي، ملي، مالي او بانکي تعاملاتو کې استعمالوي.**

**مسلمانانو په لومړي سر کې هماغه د جاهلیت د زماني کلونه او میاشتې کارولې؛ لکه د حضرت محمد (ص) د پیدایښت کال یې عام الفیل بللو. ولې د نبوت دیارلسم کال (۶۲۲م) له مکې څخه مدینې ته د پیغمبر صیب هجرت، د اسلام په تاریخ کې د عطف او ستر بدلون ټکي ګڼل کیږي. د هجرت په ۱۷ کال، دوهم خلیفه، عمر بن الخطاب (رض) د خپل خلافت ټولو واکمنانو ته د یو فرمان له لارې، دغه کال په هجري قمري تقویم (کلیزې) باندې ونومولو او امر یې وکړ چې لومړۍ میاشت به یې مُحّرَم او وروستۍ میاشت به ذو الحجه وي. پوهاند عبدالحی حبیبي په خپل کتاب، «تاریخ افغانستان بعد از اسلام» کې کاږي چې افغانستان ته د اسلام د راتګ په مهال، دلته د خلکو ترمنځ راکړه ورکړه د هندي میاشتو له مخې کیدله چې ډیر ژر یې خپل ځای هجري قمري نظام او عربي میاشتو ته پریښود.**

**په ۴۷۱ هجري قمري / ۱۰۷۹م کال کې د شاعر او فیلسوف، عمر خیام په ګډون د فلک ځینو ماهرینو سلجوقي جلال الدوله ملکشاه ته د لمریز هجري کال د رامنځ ته کولو مشوره ورکړه. نوموړي سمدستي ومنله او د حمل لومړۍ ورځ یې د نوروز په نوم غوره کړه؛ خو دغه کلیزه چې جلالي نومیدله په یوې وړې جغرافیې کې بنده پاتې شوه. بیا د ایران وروستني قاجاري واکمن، احمد شاه قاجار په ۱۲۶۴هجري کې له مشهور نجومي، میرزا عبدالغفار اصفهاني څخه وغوښتل چې په هغې کې اړین اصلاحات وکړي او د څلورو واړو موسونو او ۱۲ میاشتو لپاره نومونه غوره کړي. پنځلس کاله وروسته د ایراني ټولواک، رضا پهلوي په امر د لمریز کال لومړۍ ۶ میاشتې ۳۱ ورځې، ورپسې ۵ میاشتې ۳۰ ورځې او د حوت میاشت ۲۹ ورځې وټاکل شوه او  د ایران د شاهي دولت رسمي کلیزه یې اعلان کړه چې تر نن پورې دوام لري.**

**په افغانستان کې د غزنویانو، غوریانو، سلجوقانو، صفاریانو، ګورګانیانو، هوتکیانو او درانیانو د واکمنیو په ترڅ کې ټول تجارتي ترونونه (کورني او بهرني) او مالي راکړه ورکړه د هجري قمري او کله ناکله د میلادي جنترۍ له مخې ترسره کیدله. ولې اعلیحضرت امان الله خان په ۱۳۰۱هجري لمریز (۱۹۲۲م) کال کې د خپلو اصلاحاتو په لړ کې د افغانستان د شاهي دولت رسمي کلیزه له قمري څخه شمسي ته واړوله او د هماغې نظامنامې پربنسټ یې د طالبانو د لومړنۍ واکمنۍ پورې داوم وموند. د جمهوریت په مهال کلیزه لمریزه شوه، خو دا دې د طالبانو د دوهمې واکمنۍ په مهال بیرته ټول رسمي تعاملات، مالي او بانکي چار چلند د هجري قمري خوا ته ور وګرځید.**

**قمري کال ۳۵۴ ورځې، ۸ ساعتونه، ۴۸ دقیقې او ۳۴ ثانیې دی؛ مګر لمریز کال ۳۶۵ ورځې ۵ ساعتونه ۵۹ دقیقې او ۱۶ ثانیې وخت لري. لومړنۍ ۶ میاشتې یې ۳۱ ورځې، ورپسې ۵ میاشتې ۳۰ او د کب میاشت یې ۲۹ ورځې وي؛ خو هر څلورم کال یې دغه میاشت ۳۰ وي چې ۳۶۶ ورځې کیږي او کبیسه یې بولي. له پلوه، همدا اوس په نړۍ کې ۴۱ کلیزې شتون لري چې د مختلفو هیوادونو او توکومونو له خوا په رسمي او نیمه رسمي ډول کارول کیږي. په دې کې تر ټولو مشهورې یې عبري، بودایي، چینایي، د لاتینې امریکا مایا او د شمالي افریقا امازیغي کلیزې دي. د قرآنکریم د یونس په ۵ آیت کې د تقویم په هکله داسې راځي: (هُوَالَّذِي جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَاء وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُواْ عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ـــ الله هاغه ذات دی چې لمر یې روښانه ځلیدونکې او سپوږمۍ یې رڼا ګرځولې او د هر یو لپاره یې خپل خپل مدار ټاکلی، ترڅو تاسې د کلونو په حساب او شمیر پوه شئ).**

---




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ